د واکسینو د معلوماتو بیانیه

# د نیوموکوکل کنجوګیټ واکسین: هغه څه چې تاسو يې په اړه باید پوه شئ

Many vaccine information statements are available in Pashto and other languages. See www.immunize.org/vis

د واکسينو په اړه ډېر معلوماتي بيانونه په پښتو او نورو ژبو کې د لاسرسي وړ دي. www.immunize.org/vis وګورئ

## 1. ولې باید واکسین وکړو؟

**د نیوموکوکل کانجوګېټ واکسين** کولی شي **د نیوموکوکل د ناروغۍ مخنیوی وکړئ.**

**نیوموکوکل ناروغي** هغې ناروغۍ ته ویل کېږي چې د نیوموکوکل باکتریا له امله رامنځته کېږي. دا باکتریا کولی شي د ګڼو ناروغیو لامل شي، لکه:

- سینه بغل (د سږو انفیکشن)
- د غوږونو انفیکشنونه
- د سینوس انفیکشنونه
- منن‌ژیټ (د هغه نسج انفیکشن چې ماغزه او نخاعي رګ پوښي)
- بیکټریمیا (د وینې د جریان انفیکشن)

هر څوک په نیوموکوکل ناروغۍ اخته کېدای شي، خو کوچني ماشومان، مشران او هغه کسان چې د خطر ځانګړي فکتورونه لري، تر ټولو زیات د دې ناروغۍ له خطر سره مخ دي.

زیاتره د نیوموکوکل انفیکشنونه معتدل وي. په هرصورت، ځینې یې د اوږدې مودې ستونزو لامل کېدای شي، لکه د ماغزو زیان یا د اورېدو ضایع. منن‌ژیټ، بیکټریمیا او سینه بغل چې د نیوموکوکل ناروغۍ له امله رامنځته کېږي، د مړینې لامل کېدای شي.

## 2. د نیوموکوکل کانجوګېټ واکسین

د نیوموکوکل کانجوګېټ واکسین د هغه باکتریا په وړاندې په ساتنه کې مرسته کوي چې د نیوموکوکل ناروغۍ لامل کیږي. یوځو د نیوموکوکل کانجوګېټ واکسین (PCVs) شتون لري. د ځانګړی PCV او د توصیه شویو دوزونو شمېر د یو کس د عمر، د واکسیناسیون تاریخ، او طبي حالت پراساس دي. ستاسو د روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکی له تاسو سره په ټاکولو کې مرسته کولی شي چې د PCV کوم ډول او څومره خوراکونه باید ترلاسه شي.

- **تېخور ماشومان او تنکي ماشومان** معمولاً د PCV څلور ډوزو ته اړتیا لري. دا خوراکونه د 2، 4، 6 او 12 - 15 میاشتو په عمر کې سپارښت کیږي.
- ځینې **لوی ماشومان او تنکي ځوانان** چې تېخور ماشومانو او تنکي ماشومانو په توګه یې توصیه شوي ډوزونه نه دي ترلاسه کړي،PCV ته اړتیا لري. دا په عمر، طبي حالاتو او د خطر په نورو فکتورونو پورې اړه لري.
- **هغه بالغان چې د 19 څخه تر 49 کلونو پورې عمر لري** او PCV یې نه دي ترلاسه کړي او ځینې طبي حالتونه یا نور د خطر عوامل لري باید PCV ترلاسه کړي. په دې ګروپ کې ځینې لویان چې مخکې یې PCV ترلاسه کړي دي، ښايي د بل ډوز سپارښتنه ورته وشي.
- **لویان 50 کلن یا تر دې زیات عمر لرونکي** چې مخکې یې PCV نه دي ترلاسه کړي، باید PCV واکسین ترلاسه کړي. په دې ګروپ کې ځینې لویان چې مخکې یې PCV ترلاسه کړي دي، ښايي د بل ډوز سپارښتنه ورته وشي.

## 3. د خپلې روغتیایي پاملرنې له چمتو کونکي سره خبرې وکړئ

د واکسینو چمتو کوونکي ته خبر ورکړئ که چېرې واکسین کیدونکی شخص:

- **د هرډول PCV د مخکیني خوراک وروسته، یا له ډیفتریا توکسایډ واکسین (د مثال په توګه، DTaP)** څخه حساسیت لرلی دي، یا کوم**شدید، ژوند ګواښونکي حساسیت لري**

په ځینو مواردو کې، ستاسو د روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکی ممکن پریکړه وکړي چې PCV تر راتلونکي لیدنې پورې وځنډوي.

د زکام په څېر د کوچنیو ناروغیو لرونکي خلک واکسین کېدای شي. هغه کسان چې په منځنۍ ډول یا سخت ناروغه وي زیاتره تر رغیدو پورې انتظار باید باسي.

ستاسو روغتیاپال کولی شي په دې اړه تاسو ته ډېر معلومات درکړي.

U.S. CENTERS FOR DISEASE CONTROL AND PREVENTION

## 4. د واکسین د عکس العمل خطرونه

- سوروالی، پرسوب، درد، یا خوړوالی په هغه ځای کې چې ستن وهل کېږي؛ تبه؛ د اشتها له منځه تلل؛ بې‌قراري (بې صبری)؛ ستړیا؛ د سر درد؛ د عضلو درد؛ د بندونو درد؛ یا لړزه کېدای شي د نیوموکوکل واکسین تر تطبیق وروسته رامنځته شي.

کوچني ماشومان د PCV وروسته د تبې له امله د غوټو له زیات خطر سره مخ کېدای شي که چیرې دا د غیر فعال انفلونزا واکسین سره په ورته وخت کې ورکړل شي. د نورو معلوماتو لپاره له خپل روغتیایي پاملرنه کوونکي څخه پوښتنه وکړئ.

خلک ځیني وختونه د واکسینو په ګډون له ځینو روغتیایي کړنلارو وروسته بې هوښه کیږي. که په تاسو سرګرځیږي، یا مو د لیدلو په حس کې بدلون یا مو په غوږونو کې کرنګار لرئ، نو خپل چمتو کوونکي ته ووایئ.

لکه د نورو درملو سره، واکسین هم په ډېر نادره توګه له سخت حساسیت، نورو جدي ټپونو، یا مړینې سبب ګرځېدای شي.

## 5. که چیرې کومه جدي ستونزه وي نو څه به پېښ شي؟

د واکسین شوي کس له کلینیک څخه د وتلو وروسته الرجیک عکس العمل رامنځته کیدی شي. که تاسو د جدي عکس العمل نښې لکه (ګرمکی، د مخ او ستوني پرسوب، تنفسي ستونزې، د زړه چټک ضربان، سربدالي، یا کمزوري) ولیدلې نو **9-1-1** شمېرې ته زنګ ووهئ او اړوند شخص تر ټولو نږدې روغتون ته انتقال کړئ.

د نورو نښو لپاره چې تاسو اندېښمن کوي، خپل روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکي ته زنګ ووهئ.

منفي عکس العملونه باید Vaccine Adverse Event Reporting System (VAERS) (د واکسین د منفي پیښو راپور ورکولو سیستم) ته راپور شي. ستاسو د روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکی به معمولا دا راپور ثبت کړي، یا تاسو دا پخپله کولی شئ. له VAERS وېب سایټ څخه په دې پته لیدنه وکړئ **www.vaers.hhs.gov** یا دې شمیرې ته زنګ ووهئ **1-800-822-7967**. *VAERS یواځې د عکس العملونو په اړه د راپور ورکولو لپاره دی، او د VAERS کارکوونکي روغتیایي مشورې نه ورکوي.*

## 6. National Vaccine Injury Compensation Program

National Vaccine Injury Compensation Program (VICP) (د واکسین له امله د ناروغ کیدو د جبران ملي پروګرام) یو فدرالي پروګرام دی چې د هغو خلکو د جبران لپاره رامینځته شوی چې ممکن د ځینو واکسینونو له امله ورته زیان رسیدلی وي. د واکسینو له امله د ادعا شوي زیان یا ناروغ کیدو یا مړینې په اړه ادعاوې د ثبتولو لپاره د وخت محدودیت لري، کوم چې ممکن د دوو کلونو په څیر لنډ وي. د VICP وېب سایټ ته په دې پته ورشئ **www.hrsa.gov/vaccinecompensation** یا دې شمیرې ته زنګ ووهئ **1-800-338-2382** ترڅو د پروګرام په اړه او د ادعا د ثبتولو په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

## 7. زه څنګه نور معلومات زده کولی شم؟

- د خپلې روغتیایي پاملرنې له چمتو کونکي څخه پوښتنه وکړئ.
- خپل سیمه ایز یا ایالتي روغتیایي څانګې ته زنګ ووهئ.
- د واکسینو د کڅوړې او په دې اړه د نورو معلوماتو لپاره د Food and Drug Administration (FDA) (خوړو او درملو اداري) اړوند دې ویب پاڼې ته ورشئ **www.fda.gov/vaccines-blood-biologics/vaccines**.
- Centers for Disease Control and Prevention (CDC) (د ناروغیو د کنټرول او مخنیوي مرکزونو) سره اړیکه ونیسئ:
  - زنګ ووهئ **1-800-232-4636 (1-800-CDC-INFO)** یا
  - د CDC وېب سایټ ته په دې پته ورشئ **www.cdc.gov/vaccines**.

Pashto translation provided by Immunize.org